**لیکونکی** : فیدل کاسترو روز(Fidal Castro Ruz)
**منبع او دنشریدو نیټه**:انفارمیشن کلیرنګ هوس(۲۰۱۵-۸-۱۳)
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سید حسا م «مل».

---

# *واقیعت او رویا «خوب اوخیال»*

# Reality and Dream

*د کیوبا دانقلاب مشرفید ل کا سترو داسی تینګار کوی اوهغه داچی مونږ. با ید خپل مبارزه اوهڅی اواند دسولی اودبشریت دهوساینی اوددی نړی دهر اوسیدونکی دپاره بی له هغه چی دهغه دپوستکی رنګ او د هغه ملی منشا په نظرکی ونیسو جا ری وسا تواوله هیڅ زیا ر څخه هیڅکله نه با ید لاس واخلو اویا ستړی اوستوما نه شو.*



**فیډل کا سترو روز**

*که د یوی لاری او یا د یو روش لیکنه ګټور ښکاری اویا که داسی انګیرل کیږی یا داسی که چیری مو دا فکر وی اویا په دی باور اووسوچی داوږدی مودی په رنځونو اوکړاونو سره داخته انسا نا نو او یا د بشر د ژوندانه دسمون او له دی کړاونو څخه دهغوی د خلاصو ن دلاری دمیند لو په لټه کی اووسو اوهغوی ته دلوړی زده کړی زمینه را مینځته کړو کوم چی د هغه په رڼا کی پرجهل اونادانی باندی بی باور اووسی لکه هغسی چی مونږ. ټول په همد ی بی باوری باندی اخته یاستو اویا د بی باوری د یوالونه زمونږ. له شاو خوا څخه راتاوو شوی دی بیغیر دهغو څیړونکو اود پوهی خاوندان چی د خپل علم په رڼا کی دهر سوال ځواب په قناعت بخښونکی بڼی ورکوی اوله نادانی څخه*

ځان بیګا نه بولي .

نو دهمدې پورتني یادونو څخه شاید چې مونږ ټول د ځواني په دوره کې ځني قصې اوځني روایات تر یو حده پوری دانشمند (Einstein) په اړه لوستلې اویا اورید لي وی او بیا په ځا نګړی توګه وروسته دهغه اتومي بمونو دانفجار څخه چې د جا پا ن په دوو ښا رونو هیروشیمیا او نګا سا کی باندی دامریکې د متحده ایالاتو د هوایي قوتونو له خوا وغورځول شو اوهغه دوه ښارونه یې د خاوری سره خاوری کړ چې د هغې په پا یله کی د جا پا ن اودامریکې دمتحده ایالاتو تر مینځ جګړه هم پای ته ورسید .

دابمونه وروسته له هغه وخته وغورځول شو کله چې دامریکې د متحده ایالاتو د پیرل هاربور(Pearl Harbor) پرنظامی اډې باندی یرغل دجاپان دامپراتور ی د ما تې خوړلو اود تسلیمید لو او د نه جګړې کولو په وخت کې وغورځول شو. یعنې دامریکې له طرفه کوم چې دجګړې په وخت کې دهغه قلمرواودهغه ټول صنایعو ته هیڅ کوم نقص اوضررنه وه رسید لی، اودجګړې دناوړو اغیزو څخه خوندی اوپه ا من ا و امان کی پا تې شوی وه ا ود وخت په تیریدو سره هغه هیواد ته داسې آسا نتیا و برابرشوکوم چې په نړی کې په هغه یوا‌ځنی هیواد بد ل شو چې د شتمنیو اود سپک اوثقیل سلاح اودجنګی مهماتو په لرلو سره لمړی مقام ترلاسه کړ حال داچې دنړی نور هیوادونه ټو ټې ټوټی شو او په میلینونو ا نسا نا نو خپل ژوند دلاسه ورکړل او څه نور زیات خلک ټپیان شول او په رنګارنګ معیوبتونو اونا توا نیو با ندی اخته شول ، اوخپل باقي ژوند یې په ناهیلو اونا‌امیدونوسره سر ته ورسول .

دبیلګې په بڼې سره شوروی اتحاد او چین په دغه نړیوال جګړه کې په مجموعې توګه سره تقریباً (۵۰) میلیون خپل خلک یې دلاسه ورکړل اوسربیره پر هغه با ندی ډیر ما لی اوما دی خسا ری هم ورته ورسیدل ، حال داچې دامریکې هیواد دنړی ټول سره زر یی را ټول کړ او پخپل خزانه کې هغه را ټول کول شوی سره زر انبار کړ کوم چې اوس دهغه انبار شوی طلا مجموعې وزن تر ( ۸۱۳۳،۵ ) ټن ته رسیږی اویوه بله مهم موضوع داچې د امریکې دولت د بریټون اوډ (Bretton Wood) د پریکړو څخه سرغړونه وکړ یعنې امریکې سره دهغه چې ددې تړون یواځنی یوطرفه لاس لیک کونکې هیواد وه له خپل تعهد څخه سر وغوړول او اعلام یې وکړ چې هغه

ډالر پر تروا طلا باندی نور نه اړوی [ لازم ګڼل کیږی چی دلته د مطلب د روښانه کید و د پاره پر دوه موضوع با ند ی رڼا واچوو لمړی د برټن اوډ«Bretton» او بل پر ترو انس «Troy Ounce» باندی :
لمړی برټن اوډ =هغه وخت چی نړیوال جګړه دخپل ختمیدو په درشل کی وه یو بین المللی کنفرانس په نیوهمپشیر (New Hampshire) د مونټ واشنګټن په هوټل (Mount Washington Hotel) کی د«۲۲-۱دجولای میاشت کال ۱۹۴۴ » دایرشوچی په هغه کی انګلستان،دامریکی متحده ایالات اود(۲۲) نوروهیوادونو استاذی ګډون وکړل ،په دی غونډه کی پر دوه نوی نهادونو باندی خبری وشول




یوشمش طلا= انس تروا دیوا نس تروا سکه

چی با ید ایجاد کړل شی یو د پیسو نړیوال صندوق ( international Manitoring Funds) اوبل د رهنی اوتعمیراتی بانک (IBRD) ایجادول کوم چی اوس دغه نهاد دجهانی بانک پر نوم باندی یادیږی کوم چی دا دواړه نهادونه دنړیوال ددوهمی جګړی د ورانیو د بیا له سره جوړونه او د پولی ستونزو د حلولو پرموضوعاتوبا ندی پریکړی ونیول شو دوهم موضوع د اونس تروا په اړه روښانی اچول دی اوهغه داچی په دی کنفرانس کی پریکړه وشو چی طلا دی په دالر واړول شی او د نوروهیوادونو پیسی په دالر باندی تسعیر شی اوهغه داچی انس تروا دوزن داندازه ګیری له واحد څخه عبارت دی کوم چی امریکیا نو ومنل چی یو دالر په« ۱/۳۵ » انس سره زر باندی تبدیلوی یا اړوی کوم چی تا سی په پورتنی دوه انځورونو کی انس تروا کتلای شی ...... د ژباړونکی توضیحات د ویکی پیدیا له ادرس څخه ]

دا هغه څه دی چی دغه اندازه ګیری اویا دغه د طلاسره د دالر تبادله چی **د جمهور ریس فرانکلن د یلا نو روزولت (Franklin Delano Roosvelt)** له خوا منل شوی او دستور ورکړ شوی وه د **نکسن** له طرفه دغه تعهد نقض شو یعنی ددی تعهد څخه سرغړونه وشو کوم چی دهمدی سرغړونی پر بنیاد ډیر شمیر دتجربی خاوندان داسی څرګند کړ چی دغه چلن د ما لی او داقتصادی بحران اساس او بنست جوړوی اویا دنورو تهدید کونکو بلا ګا نو اود فجا یعو په مینځ کی هغه لوی بلا دی کوم چی د یوهیواد داقتصا د د مود ل د ختی اود خمیری د تهد ید لو زمینه رابرابروی – نودهمدی اصل په نظر کی نیولو سره هومره حساره چی کیوبا ته را رسیدلی او مونږ دخپل دخساراتود غراماتو په اړین په مکرر بڼی سره دملګروملتونو له لاری غوښتن ترسره کړی دی چی دهغه خساراتومعادل په میلیون ډالره کیږی چی زمونږ دغه استدلال او هغه حقایق چی ملګروملتونوته مو وړاندی کړی دی ټول ریښتیا او انکارنه منونکی حقایق دی .

دکیوبا ګوند اودهغه دولت خپل روښانه دریځ ددی نیمی وچي دهیوادونو اود هغو ټولو خلکو چی د بشر په کورنی پوری تړلی دی خپل نیکه اراده دسولی دتامین اودهغه دټیکاو دپاره ښکاره او بیان کړی دی . چی داپه نتیجه کی زمونږ دجنس ( ګونه= species ) د بقا د پاره د نړی په مینځنی ځای کی مرسته کول دی نودهمدی بنیاد په نظرکی نیولو سره مونږ باید ترهغه پوری چی سوله مو دټول بشراوددی وچي دهراوسیدوکی دپاره بی له دی چی دهغه دپوستکی رنګ اویادهغه ملی منشا په نظرکی ونیسو نه وی تامین کړی خپل هڅی اومبارزی ته به دوام ورکوو او نه تمیرږ. اودهرچا دپوره حق دترلاسه کولو دپاره بی دهغه دمذهبی اونه مذهبی باورونو په نظرکی نیولو سره خبل نه ستړی کیدونکی هلی ځلی به جاری وساتو. چی دغه کړنلاره زمونږ دګوند هغه روښانه پالیسی دی کوم چی مونږ د مبارزی په پیل کی د خلکو سره دغه تعهد سپارلی وه .

دټولو اوسیدونکو دپاره مساوی حق روغتیایی - فرهنګی - معرفتی خدمتونو اودهغو هوسا ینه زمونږ دلمړی ورځی هوډ وه کله چی مو په مبارزه لاس پوری کړ ، سرببیره پرهغه نورو وعدو اوتعهدات چی زمونږ له رویا څخه پیدا شو لکه عدالت – برابری – د نړی د ټولو اوسید ونکو د پاره هسی چی ځما

*هیلی ټولو د پاره دی اودهغو دپا ره چی ما سره ددی هیلی په تر سره کولو کی ستر ونډه اخیسی اویا هغو کوم چی د پورته نظر سره خپل هڅی تر سره کړی . له تاسو ټولو هموطنا نو څخه په پوره مننی سره .* ***فیډل کاسترو روز***

***--------------------------------------- په درنا وی***